افغانستـــــان اســــلامي امارت
د ارشـــــاد، حج او اوقافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست
د ارشــــــاد او دعوت آمريت
د خطبو د تنظيم عمومي مديريت

دجمعې د خطبې لاربښود مؤرخ:۲ / ۱۴۴۳/۱۲هجری قمری مطابق ۱۴۰۱/۴/۱۰هجری شمسی

# د ذوالحجې مياشتې د لومړيو لسو ورځو فضائل او اعمال

**الحمدلله الغفور الشكور، الذي يثيب على العمل الصالح بأعظم الأجور، وأصلي وأسلم على سيدنا محمد ماتعاقبت الأيام والدهور، ورضي الله عن الصحابة والتابعين لهم بإحسان الى يوم البعث والنشور، أما بعد :**

**قال الله سبحانه وتعالى: (وَالْفَجْرِ، وَلَيَالٍ عَشْرٍ ) الفجر : ۱-۲**

**ترجمه:** قسم دی پر سهار او پر لسو شپو ( د ذوالحجې).

**گرانو مسلمانانو!**

الله جل جلاله خپلو بندگانو ته خپل رحمت پراخه کړی دی او دهغه رحمت د ژوند هری برخې ته شامل دی. دالله جل جلاله د رحمت او مهربانۍ يوه نمونه داده چې مسلمانانو ته دهغوی گناهونه ببښي او دمسلمانانو لپاره يي داسې ورځې راليرلي دي چې زياتې غوره دي او کم عمل په کې زيات ثواب لري.

همدا راز دحضرت محمد صلی الله عليه وسلم دامت عمرونه لنډ دي ؛ الله جل جلاله دخپلې مهربانۍ له مخې دده د امت لپاره د ذوالحجې په شان بابرکته ورځې راوليرلي؛ چې مسلمان په کې په کم عمل سره د زيات اجر مستحق گرځي. همداراز که له يو طرف الله جل جلاله مونږ ته درحمت پيغمبر راستولی دی له بل طرف يي زمونږ لپاره دکال په اوږدو کې داسې مبارکې او بهتره ورځې راليږلي دي، چې په حقيقت کې دا ټول دالله تعالی د مهربانۍ او رحمت بيلگې دي.

د ذوالحجې مياشتې لومړۍ لس ورځې د کال ترټولو غوره بلکې د دنيا ترټولو غوره ورځې دي ځکه الله تعالی په دې ورځو قسم ياد کړی او د نيکو عملونو ثواب په کې ځوچنده دی او هيڅ داسې ورځ نشته چې د الله په وړاندې نيک عملونه د دې ورځو څخه په کې زيات غوره وي او بيا په دې لسو ورځو کې تر ټولو غوره عمل چې د الله په وړاندې ډير خوښ دی اوالله تعالی ته د نژديوالی لامل کيږي هغه د الله د رضا لپاره د قربانۍ کول دي. قرباني د اسلام د نښو نښانو څخه يوه نښه ده او رسول الله صلی الله عليه وسلم په مدينه منوره کې د ژوند په اوږدو کې ورباندې هميشوالی کړی دی او په دې لسو ورځو څخه نهمه ورځ عرفه ده چې روژه نيول په کې د حاجي نه پرته چې په عرفات کې وي، سنت ده او د دې ورځې روژه نيول د دوو کالو گناهونه رژوي. د ذوالحجې په لومړيو لسو ورځوکې هر نيک عمل مستحب دی، په ځانگړې توگه د الله تعالی ذکر او روژې نيول، بناءً مسلمان ته په کار ده چې دا ورځې غنيمت وگڼي او مختلف نيک عملونه په کې وکړي يعني لمونځونه دې وکړي، صدقې دې ورکړي، ښيگڼې دې وکړي او د الله تعالی ذکر دې په کې وکړي .

**د ذوالحجې دمیاشتې دلومړیو لسو ورځو دفضیلت دلائل:**

د ذوالحجې میاشتې دلومړیو لسو ورځو د فضیلت دلائل زیات دي؛ چې ځینې یي په لاندې ډول دي:

۱-الله جل جلاله د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو قسم یاد کړی دی.

الله تعالی فرمایلي دي: **{وَلَيَالٍ عَشْرٍ } الفجر:۲ .** ترجمه: قسم دی په لسو شپو باندې.

امام طبري (رح) وايي: صحیح خبره داده چې ددې لسو شپو څخه داختر لس ورځې مراددي.

ابن کثیر وايي: ددې لسو شپو څخه د ذوالحجې لس شپې مراددي.

او عظیم ذات قسم نه خوري؛ مګر په عظیم شی باندې؛ چې دا ددې لسو ورځو دفضیلت دلیل دی.

۲- دا هغه معلومې ورځې دي چې الله تعالی په کې مونږ ته د الله تعالی د یادولو او ذکر امر کړی دی.

الله جل جلاله فرمایلي دي : **{وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ} الحج: ۲۷-۲۸**

**ترجمه:** او خلکو ته دحج لپاره عمومي اعلان وکړه چې هغوی تاته د هر لرې مزل څخه پلی او په کمزوري اوښ سپاره راشي.ترڅو هغه ګټې ووینې چې دلته دهغو لپاره موجودې دي او په څو ټاکلو ورځو کې پر هغو څارویو باندې د الله تعالی نوم واخلي (دالله تعالی په نوم سره یي حلال کړي) چې هغه ورته روزي کړي دي ، په خپله یي هم وخورئ او تنګلاسو محتاجو ته یي هم ورکړئ.

حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمایلي دي: ددې معلومو ورځو څخه مراد دذوالحجې لس ورځې دي. [ **البخاري معلقا بصيغة الجزم)**

۳- دا لس هغه مبارکې ورځې دي چې دنیک عمل ثواب په کې څو چنده دی.

په بخاري کې دابن عباس رضي الله عنه په روایت سره حدیث شریف راغلی دی .**عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ أَنَّهُ قَالَ: (مَا الْعَمَلُ فِي أَيَّامٍ أَفْضَلَ مِنْهَا فِي هَذِهِ)، قَالُوا: وَلا الْجِهَادُ؟ قَالَ: (وَلا الْجِهَادُ، إِلاّ رَجُلٌ خَرَجَ يُخَاطِرُ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ) صحيح البخارى. وللترمذي: (مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ الْعَشْرِ)، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ : (وَلا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ إِلاّ رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِكَ بِشَيْءٍ). سنن الترمذى**

**ترجمه:** په نورو ورځو کې نیک عمل د ذوالحجې د ورځو دنیک عمل څخه غوره نه دي. صحابه کرامو وویل: او جهاد هم غوره نه دی؟ پیغمبرعلیه السلام و فرمایل: جهاد هم غوره نه دی؛ مګر داچې یو سړی په جهاد کې ووزي او ځان او مال په خطر کې واچوي او بیرته هیڅ شی سره را ونه ګرځي.

د ترمذی په روایت کې داسې رازي: داسې ورځې نشته چې نیک عمل دې په هغو ورځو کې الله تعالی ته زیات خوښ وي ددې لسو ورځو دنیک عمل څخه . صحابه کرامو عرض وکړ ای دالله رسوله! د الله تعالی په لار کې جهاد هم غوره نه دی؟. پیغمبر علیه السلام وفرمایل: دالله تعالی په لار کې جهاد هم غوره نه دی؛ مګر داچې یو څوک په جهاد کې خپل ځان او مال هم وباسي او ددې څخه بیرته هیڅ شی سره را و نه ګرځي .

**وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهَا أَحَبُّ الى اللهِ عَزَّوَجَلَّ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ : يَعْنِي أَيَّامَ الْعَشْرِ) . وفي رواية : (مَامِنْ عَمَلٍ أَزْكيَ عِنْدَ اللهِ وَلاَ أَعْظَمُ أجْراً مِنْ خَيْرٍ يَعْمَلُهُ فِي عَشْرِ الأَضْحَي).سنن الدارمي**

**ترجمه:** له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی؛ هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : نشته داسې ورځې چې نیک عمل دې په کې الله تعالی ته ډیر خوښ وي د ذو الحجې دلسو ورځو څخه . او په یوه بل روایت کې راځي: نشته داسې بهتر او لوی عمل دالله تعالی په نزد دثواب له نګاه څخه چې هغه دې بهتره وي د ذوالحجې د لسو ورځو دعمل څخه .

۴- دذوالحجې لس ورځې ددنیا له غوره ورځو څخه دي.

په حدیث شریف کې رازي: **عن جابر بن عبدالله رضي الله عنه : أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : (أَفضَلُ أَيامِ الدُّنيا العَشرِ، يعنِي : عَشرِ ذِي الحِجَّةِ) البزار فی کشف الاستار وابو یعلی .**

**ترجمه:** له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي؛ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د دنیا تر ټولو بهتره ورځې لس دي. یعنی د ذو الحجې د میاشتې لومړی لس ورځې .

۵- د ذوالحجې په لسو ورځو کې هغه ورځ ده چې الله تعالی ته زیاته خوښه ده چې هغه داختر ورځ ده.

په حدیث شریف کې راځي: (**إِنَّ أَعْظَمَ الأَيَّامِ عِنْدَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ يَوْمُ النَّحْرِ) رواه أبو داود**

**ترجمه:** بیشکه دالله تعالی په نزد ترټولو بهتره ورځ داختر ورځ ده.

دا هغه لس ورځې دي چې په دې ورځو کې دحج مهم کارونه ترسره کیږي لکه دعرفات وقوف، په مشعر الحرام کې وقوف ، د جمرو ویشتل ، دهدیې ذبح او دسر خریل او یا کمول.

امام ابن حجر (رح) فرمایي: د ذوالحجې د لومړیو لسو ورځو د غوره والي امتیاز له دې کبله دی چې په دې ورځو کې لوی لوی عبادتونه سره یوځای کیږي؛ لکه لمونځ، روژه،د صدقه ، حج؛ چې داسې عبادتونه په نورو ورځو کې نه یوځای کیږي .[فتح الباری]

## د ذوالحجې میاشتې د لومړیو لسو ورځو اعمال:

داچې په شریعت کې د ذوالحجې د لومړیو لسو ورځو فضیلت زیات راغلی دی؛ په دې ورځو کې نیک عملونه کول هم زیات ثواب لري؛ په همدې اساس علماء کرامو او بزرګانو به ددې ورځو خاص خیال ساته. ځینو علماء کرامو به ددې ورځو

لپاره خاص تیاری نیولو او ویل به یي: په کارده کله چې د فضیلت ورځې رارسیدی په توبې سره استقبال شي، ممکن چې توبه دنیکو عملونو دانجام لپاره وسیله شي. بله داچې دداسې ورځو لپاره دمخکې نه کلک عزم په کاردی چې دغه مبارکې ورځې په نیکو عملونو سره ډکې شي.

امام عبدالرحمن النهدی وایي: سلفو علماؤ او بزرګانو به د دریو لسیزو زیات قدر او درناوی کولو، یو درمضان المبارک اخیري لس ورځې. دوهم د ذوالحجې لومړی لس ورځې او دریم دمحرم الحرام لومړی لس ورځې.[لطائف المعارف]

په یو روایت کې رازي: (**وَكَانَ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ إِذَا دَخَلَ أَيَّامُ الْعَشْرِ اجْتَهَدَ إجْتِهَاداً شَدِيْداً حتى مَا يَكَادُ يُقْدِرُ عَلَيْهِ**).سنن الدارمی

**ترجمه:** کله به چې د ذوالحجې لس ورځې داخلی شوی، سعید بن جبیر رضي الله عنه به په عبادت کې داسې کوښښ او هلې ځلې کولې تردې چې خپل توان او قدرت به یې له لاسه ورکړ.

په کارده چې د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو کې نیک او مستحب علمونه وشي؛ چې ځینې یي په لاندې توګه دي:

۱- **عمره کول**. که دچا په توان کې وي چې په دې لسو ورځو کې عمره وکړي، عمره کول هم زیات ثواب لري.

۲- دفرائضو او نوافلو اهتمام.ځکه په فرائضو سره بنده الله تعالی ته زیات نږدی کیږي.

په حدیث شریف کې رازي:( **وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ**...). صحیح البخاري

**ترجمه:** او نه نږدی کیږي ماته زما بنده په بل داسې څه باندې چې هغه ماته دفرضو څخه زیات خوښ وي. او تل زما بنده ماته په نوافلو باندې نږدی کیږي ؛ تر دې چې زه ورسره محبت وکړم.

۳- **نفلي عبادات زیات کول**. ځکه په نوافلو سره بنده د الله تعالی محبوب ګرځي .لکه چې په پورتني حدیث کې ذکر شول دنفلي عباداتو په کولو سره بنده دالله محبوب ګرځي او لویو درجو ښتن کیږي.

نفلي عبادات لکه نفلي لمونځ، دقرآن کریم تلاوت، صله رحمي، دبې وزلو سره مرسته کول، ښه خبره صدقه کول...صدقه کول انسان نیکو کارونو ته رسوي، صدقه دانسان په وړاندې بندی دروازی برسیره کوي او له شر څخه یي ساتي. همدا راز صدقه دانسان ځان او مال پاکوي او په صدقې سره دانسان ګناهونه ببښل کیږي ، صدقه انسان ددرهم او دینار له بندګی څخه ساتي.

(**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه أنه أتى النبى صلى الله عليه وسلم قَالَ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْبِئْنِي عَنْ أَمْرٍ إِذَا أَخَذْتُ بِهِ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَالَ أَفْشِ السَّلَامَ وَأَطْعِمْ الطَّعَامَ وَصِلْ الْأَرْحَامَ وَقُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ ثُمَّ ادْخُلْ الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ**) مسند أحمد
**ترجمه:** له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي؛ زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته ورغلم او ورته مې وویل ای دالله رسوله ! ماته داسې کار وښایه چې هغه وکړم او جنت ته داخل شم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: سلام عام کړه. طعام ورکړه او خپلوانو سره خپلولي وساته او دشپې عبادت ته پاڅیږه په داسې حال کې چې خلک ویده وي، بیا جنت ته په سلامتیا سره داخل شه.

۴- **زیات ذکر کول**. الله جل جلاله فرمایي:(**وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ**) **الحج:۲۸**

امام ابن رجب وايي: د ذوالحجې په لسو ورځو کې د زیات ذکر په استحباب باندې دقرآن کریم داآیت شریف :(**وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ**) دلالت کوي. ځکه (ایام المعلومات) دجمهورو علماؤ په نزد د ذوالحجې لومړنی لس ورځې دي.

امام نووی (رح) وايي: په دې لسو ورځو کې نسبت نورو ورځو ته زیات ذکر کول مستحب دی بالخصوص دعرفې په ورځ. [الأذکار - النووي]

په یو بل روایت کې رازي:( **وَأَفْضَلُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ**). موطأ مالک

**ترجمه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : دعرفې په ورځ بهترینه ذکر هغه چې ما او زما څخه مخکې پیغمبرانو ویلی دی هغه دا کلمه ده: **لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ**).

په ذکر کې تکبیر، تهلیل او تحمید ټول شامل دي .په حدیث شریف کې رازي:(**مَا مِنْ أَيَّامٍ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ وَلا أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ الْعَمَلِ فِيهِنَّ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ الْعَشْرِ، فَأَكْثِرُوا فِيهِنَّ مِنْ التَّهْلِيلِ وَالتَّكْبِيرِ وَالتَّحْمِيدِ**) **رواه أحمد**

**ترجمه:** دالله جل جلاله په نزد داسې لوی اوبهتره ورځې نشته چې الله ته په کې عمل کول غوره وي ددې لسو ورځو په نسبت. پس په دې ورځو کې لااله الاالله ، الله اکبر ولله الحمد، زیات ووایاست.

یزید ابن ابی زیاد فرمایي ما سعید ابن جبیر، عبدالرحمن ابن ابی لیلی او مجاهد چې جلیل القدر فقهاء او تابعین دي و لیدل چې د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو کې به یي داسې ذکر کولو:(الله أکبر الله أکبر، لا إله إلا الله والله أکبر. الله أکبر ولله الحمد) . [فتح الباری لابن رجب]

میمون ابن مهران وايي : مونږ خلك ولیدل چې دوی به د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو کې داسې زیات تکبیرونه ویل چې زه د امواجو سره مشابه بولم . [فتح الباری لابن رجب]

**۵**- د ذوالحجې په نهو ورځو کې روژه نیول.

په حدیث شریف کې رازي: **عَنْ هُنَيْدَةَ بْنِ خَالِدٍ عَنِ امْرَأَتِهِ عَنْ بَعْضِ أَزْوَاجِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَصُومُ تِسْعَ ذِى الْحِجَّةِ وَيَوْمَ عَاشُورَاءَ وَثَلاَثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ**)**سنن أبی داود والنسائي.**

**ترجمه:** هنیده ابن خالد دخپلې ښځې څخه روایت کوي، دهغه ښځه دپیغمبرعلیه السلام دځینو بیبیانو څخه روایت کوي هغه **فرمایي:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا عادت ؤ چې هغه به د ذوالحجې نهو ورځو روژه نیوله او دعاشوراء ورځ روژه به یې نیوله او دری ورځې دهری میاشتې څخه .

که چیرې څوک د ذوالحجې نهه ورځې روژه نشي نیولای د عرفې ورځ روژه باید هیره نشي.

٦- د ذوالحجې په شپو کې عبادت کول مستحب دی.

امام سعید ابن جبیر فرمایي: (**لا تطفئوا سرجکم لیالي العشر**) ترجمه: د ذوالحجې په شپو کې خپل چراغونه مه وژنئ.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**